



کتاب:: لنډکۍ پښتو او پښتونواله
لیکوال:: محمد ګل "مومند "بابا
چاپ:: څلورم
خپرندوی:: بېنوا فرهنګي ټولنه
کمپوز/ډیزاین:: مختار احمد انتقام
د پښتۍ ډیزاین:: صالح محمد صالح
چاپکال:: 1383 لمریز
د خپرونو لړ:: )14(
کندهار

*Aghalibrary.com*

## د مومند بابا ژوند لیک

اروانښاد محمد ګل مومند د محمد خورشید خان غونډ مشر زوی د مومند خان لمسی د عبدالکریم خان کړوسی په ختهٔ دویزی مومند او په دویزو کي حسن خېل و ، په 1303 هـ ش کال د کابل په اندرابیو کوڅه کي زېږېدلی و ، لومړنۍ زدکړې یې په ځاني ډول وکړې په 1327 هـ ش کال کي د حربي ښوونځي دویم ټولګي ته ولوید ، په پنځه کاله کي یې پوځي زدکړه بشپړ کړه وروسته په اردلانو غونډ کي کومندان وټاکل شو ، دا مهال یې هم شاهي ټولګي ته درس ورکاوه ، او هم یې د حربي ښوونځي سرمعلمي پر غاړه وه ، د دغه بریالي چوپړ په پایله کي د سپاه سالار صالح محمد خان یاور وټاکل شو ، بیا د شاهي ګارډ کومندان سو ، څه مهال په ترکیه کي د افغاني سفارت پوځي اتشه و ، ده د هیواد د خپلواکۍ په جګړه کي هم پوره ونډه واخیسته، او خپله پښتني مېړانه یې څرګنده کړه، په1303 لمریز کال کي د پکتیا د عسکري کومندان او اعلی حاکم په توګه وټاکل شو.

په 1306 لمریز کال کي د مزار شریف د ملکي پلټني رئیس او بیا د ننګرهار عسکري کومندان وټاکل شو ، د سقاوي انقلاب پر مهال یې لومړی له سردار محمد هاشم خان سره او بیا یې په پکتیا کي له اعلیحضرت محمد نادر شاه شهید سره کلکه ملا وتړله او په زړه پوري خدمتونه یې وکړل، د هیواد تر ژغورني وروسته د سردار محمد هاشم خان په کابینه کي کورنی وزیر وټاکل شو دا مهال د اعلیحضرت محمد نادر شاه له خوا لومړي د ننګرهار او بیا د پروان او کابیسا ولایتونو د تنظیمه رئیس په توګه وټاکل سو ، په دغو ولایتونو کي پوره ارامي او را وروسته وروسته بیا په 1311 لمریز کال کي د قطغن، بدخشان، مزار شریف، میمنې او کندهار ولایتونو د تنظیمه رئیس په توګه وټاکل شو ، په هر ځای او هرکار کي یې خپله دنده په پوره ایمانداري سرته رسوله، او د خپلو ښو خدمتونو له امله یې د لمر اعلی نښان واخیست.

په 1309 لمریز کال کي د دولت وزیر وټاکل شو ، او تر دې وروسته یې نور ټول ژوند په خپل کاله کي د پښتو ژبي په پوهنیزو او ادبي چوپړ کي تېر کړی دی.

په 1343 لمریز کال کي د لویي جرګې د مشر مرستیال ټاکل شو او خپله پښتني دنده یې په ښه توګه تر سره کړه.

تر 1327 لمریزکال پوري د مزار شریف په ایبکو کي اوسېدئ، بیا په همدغه کال کي د غازي شاه محمود خان د صدارت په وخت کي کابل ته راغئ او پاته ژوند یې په خپله خوښه په کابل او ننګرهار کي تېراوه، څو ژمي یې د کونړ په نرنګ او پاته ژمي یې په خپل آر ځای (ګولایي) کي تېر کړل خو په اوړي کي به کابل ته تلئ او په دې ډول یې د خپل کوچیاني ژوند سلسله هم ټینګه ساتله.

مړینه:

دغه ننګیالی، توریالی، خبرلوځ او جرګه مار پښتون په پای کي د 1343 کال د زمري پر اووه ویشتمه د سې شنبې په ورځ د سهار پر اته بجې د 80 کلونو په عمر د بریکوټ په یوه کرایي کور کي وفات او په خورا درناوي د کابل د شهدای صالحینو په هدیره کي خاورو ته وسپارل شو.

د اروانښاد محمد ګل مومند د جنازې مراسمو ته د کابل لوی_لوی خلګ، ملکي او عسکري ماموران او نور ډېر مینه وال راغلي وو ، کله دی په درنښت خاورو ته وسپارل شو نو لومړی یې مولانا ارشاد لنډ ژوند لیک بیان کړ ، د ده لوړ شخصیت او د هیواد لپاره یې دده سپېڅلي چوپړونه وستایل، ورپسې یې اروانښاد پوهاند صدیق الله رښتین، و عسکري، سیاسي، پوهنیز او ادبي ارزښت ته نغوته وکړه، او ویې ویل: چي محمد ګل مومند ددې مهال خوشال خټک و ، ځکه چي دی هم د هغه په شان د توري او قلم څښتن و ، د سیاسي ډګر پهلوان او یو غښتلی عسکر او جنرال و ، او د عبدالقادر خټک دا شعر یې ووایه:

چي څراغ د هنر ځمکي پوشیده کړ
که یې زه په اوښکو ډوبه کړم سزا ده

د اروانښاد محمد ګل مومند بابا رسمي فاتحه د پوهني وزارت له خوا د زمري پر 28 29 _ د سید پور په لوی جومات کي واخیستل شوه، دغي فاتحې ته د هغه مهال باچا محمد ظاهر شاه هم راغلی و ، او د هغه ورور محمد کریم خان او وراره محمد پتنګ ته یې خپله خواخوږي څرګنده کړه.

اخلاق او شخصیت یې:

په دې باید هر څوک پوه شي چي اروانښاد محمد ګل خان مومند بابا د یو لوړ شخصیت، سپېڅلي کرکټر، او کلک هوډ څښتن و ، پر مذهبي آرونو ټینګ ولاړ، پر پښتو او پښتونواله ببخي مین و ، د پښتون له تاریخ او عظمت سره یې ډېره مینه لرله، بې پښتو او بې همته پښتانه یې

نه خوښېدل، د ښو خويونو او ښو اخلاقو په جامه ښايسته و ، د ده باندې او مرکه د پښتو او پښتونولي يو لوی ښوونځي و ، تل به يې پښتنو ځوانانو ته د پښتني خويونو سپارښتنه کوله، بې پښتوګي يې بده ګڼله، د ده په وجود کي عسکريت، سياسي، پوهه او ادب ټول را يو ځای سوي وو ، او په دغو ټولو برخو کي يې عملي ونډه اخيستې وه له همدې امله نو په هيواد کي د يو ستر ملي شخصيت په توګه پيژندل شوي دي.

مومند بابا د يوې نه بدلېدونکي ګروهي خاوند و ، په سختۍ او نرمۍ په خزان او بهار ، لنډه دا چي په هر ډول حالت کي پر خپل هوډ ، ننګ، پښتو او پښتونوا له لکه غر ټينګ ولاړ وو ، ده لکه د تېرو مېړنيو پښتنو غوندي د پيسو پر ځای کيسې ګټلې. او په دولت او پيسو پسې دومره نه ګرځېدی، همدا لامل و چي تل به د کابل په يوه کرايي کور کي اوسېدئ او تر مرګه هم په کابل کي د کوم کورګي خاوند نه شو ، تر دې چي سا يې هم په بل کور کي وختله، او همدا خبره د ده لوی وياړ او امتياز ګڼل کېدای شي.

مومند بابا پر نورو ښېګڼو سر بېره يو ځواکمن خطيب او ويناوال هم و ، په ويناوو کي يې پوره فصاحت، زيات جرئت او ځواکمن منطق شته وو هر مهال او هر ځای به يې له اخلاقي زړورتيا څخه کار اخيست، او هيڅکله يې له رښتيا وينا څخه نه دي اړولی.

## دمحمد ګل بابا پوهنيز او ادبي خدمتونه:

مومند بابا پر سياسي او عسکري چوپړونو سر ببره په پوهنيزه او ادبي برخه کي هم پاخه بنستهونه ايښي دي او د پښتو ژبي د ژوندانه لپاره يې لوی_لوی کارونه کړي دي.
کله چي د کندهار تنظيمه رئيس و، نو هلته د محمد نادر شاه شهيد په اراده په 1311 لمريز کال کي د پښتو انجمن لومړی ډبره کښېښوده چي بيا همدغه انجمن کابل ته را وغوښتل شو او د کابل له ادبي انجمن سره يو ځای شو چي وروسته بيا (پښتو ټولنه) ځني جوړه شوه.
مومند بابا په کندهارکي هم رسمي دفترونه هم په پښتو اړولې وه، چي وروسته بيا چا دغه لار ټينګه نه کړای شوه.
په کندهار کي يې ډېر زلميان و روزل، او د پښتو د چوپړ لپاره يې ډګر ته را وايستل، د کندهار طلوع افغان هم د ده په امر په پښتو واوښت، د ده نيت او ارادې ډېر مهال د پښتو د ژوند او پرمختګ سره زياته مرسته کړې وه، او تل يې د پښتو د لوړتيا هيله په رسمي او ځاني ډول ښه پاللې ده.
دده لومړی پوهنيز چوپړ له (پښتو سيند ) څخه پيلېږي د دې قاموس د ليکلو لپاره يې له ډېرو د لغتونو په را غونډولو له پخوا څخه بوخت و، خو د کتاب په بڼه په 1316 لمريز کال کي د کابل په عمومي چاپخونه کي چاپ شو، دغه قاموس دوه ټوکه دی، او ټول مخونه يې 765 ته رسېږي، په دې قاموس ډېر زيار کښل شوی دی، او په پارسي باندي د پښتو يو ارزښتمن سيند ګڼل کيږي.
)پښتو ليار) دا د پښتو ژبي يو نوی ګرامر دی، چي په پښتو ليکل شوی دی، او په 1317 لمريز کال په لاهورکي د عبد العظيم ساپي په اهتمام چاپ شوی په دې ګرامر کي داسي نوي څېړني راغلي دي چي په پخوانو هغو کي نه وې، په پای کي د مصدرونو يو بشپړ نيوليک لري، چي ټول مخونه يې 400 ته رسيږي .
د مومند بابا بل اثر لنډکی پښتو ده، چي وروسته به پر وړغېږو، مومند بابا ځيني نور کتابونه هم لري، لکه (پښتني روزنه)، د پښتو پښتونواله، (د پښتو لويه نحوه د معاني او بيان) (د پخلي کتاب په 400 مخونو کي) خو موږ نه پوهېږو چي دا کتابونه به تر اوسه لا چاپ شوي وي که نه.
د مومند بابا زياته بوختيا د لغتونو په څېړنه او پلټنه کي وه تل به يې له کليوالو پښتنو څخه د نا اشنا لغاتو پوښتني کولې، تل به قلم او کاغذ ور سره و چي نوی لغت به يې واورېدی نو هغه به يې وليکئ، ګڼه وډه اوناوړه پښتو يې نه خوښېده، چا چي به له پښتو سره بې پروايي کوله هغه يې ښه نه ابسيدی، د لغاتو په جوړولو کي يې پوره ملکه درلوده، او ډېر نوي لغات يې جوړ کړي دي چي اوس بيخي دود شوي دي لکه خج= د فشار اواز، د ژبي ليار و قانون، و توئی، مخرج، ننوتوئی، ايرنی، خاکسترداني او نور خو ځيني يې د سختی له امله دود شوي نه دي، لکه اځل= ګيلاس، هڅوب= کلچر.
په پښتو ليکدود کي يې هم ځيني بدلونونه را وستلي دي، لکه (شا ) (سړه ی) خو دا ليکدود هم دود نه سو، يوازي دغه (ی) پښتو ليکدود ته را ننوته، اروابناد پوهاند رښتين وايي چي زه د ده تر مړيني درې ورځي مخکي د جمعې په ورځ ورغلم، څو تنه نور پښتانه هم وو، په دغه ورځ سره له دې چي رنځور مالومېده، خو د لغاتو په پوښتنه لګيا و، قلم ور سره و او نوي لغاتونه يې په کتابچه کي ليکل، په دغه ورځ يې پوښتنه را څخه وکړه چي د (بې وزلي او اسکېرلي) تر منځ څه توپير دي؟ ما وويل: چي زه نه پوهېږم نو ويې ويل چي دغه لغت د کندهار دی له کندهاريانو څخه يې مانا مالومه کړه او بيا يې ما ته ووايه.
د مومند بابا زياته پاملرنه نثر ته وه، له شعر سره يې ډېره جوړه نه وه، خو يو دوه شعرونه يې ويلي چي په کابل مجله کي خپاره سوي دي.
نثر:
مومند بابا نثر ته ډېر ارزښت ورکاوه او هغه نثر يې ډېر خوښاوه چي د پښتو د سوچه لغتونو او رښي محاورې په ګاڼه به پسوللی و، په نثرکي د متحد ادبي سبک او د پښتو د خپل ځانګړې ډول ټينګ پلوی و، د) پښتو ژپي ليار) په سريزه کي يې دغه راز نثر په خپله هم ليکلی دی، چي هم د مانا او هم د عبارت له مخي د پښتو خورا ځواکمن نثر دی. څو جملې يې داسي دي:
"هر څه چي دي، د ملت سعادت، سلامتيا، عافيت، راحت، عزت، ملي شتوالی، سره ژوندون، په عزت سره مړينه او له نړی څخه په ښه نامه تګ دا ټول د ملي يووالي، مليته پوري او ملت او يووالي د ملي ژبي پوري اړه لري، که ملي ژبي خلل مينده کړ، دغه ټول خلل مينده کوي او که محوه شو نو ټول محوه کيږي او د دغه ملت نوم او ننبه د نړی له مخه څخه ورکيږي."
دا کتاب (لنډکی پښتو:(
د اروښاد محمد ګل مومند يو له خوندورو کتابو څخه همدا (لنډکی پښتو ) ده، چي د لومړي ځل لپاره په1327 لمريز کال کي د پښتو ټولني له خوا چاپ سوې ده، وروسته تر هغه وروسته دوه ځلي بيا چاپ سوه، يو ځل په کوټه کي او پل هم په پېښور کي. دا چي کومه يوه مختنه او

کومه شا ته وه، موږ ته نه ده څرګنده، د پېښور له چاپه یوازې خبر لرو چې د ساپي پښتو خپرونو مرکز په وړه کچه چاپ کړې ده، زموږ لاسته تر اوسه نه ده را رسیدلې او بل چاپ یې په کوټه کې سوی، چې له متن او نورو ځانګړنو څخه دا سې ښکاري، چې له کابل چاپ څخه هو بهو کاپي سوی وي، خو بیا چې ګورو په کمپیوټر لیکل سوې، نو ریې نو بیا د چاپ په اړه څه نه دي ویل سوي، خو دومره خبر یو چې د دې چاپ چارې د کوټې یوه ډېر پاک زړي، درانه او پر پښتو او پښتنو مین ملي څېرې ښاغلي ملک امان کاسي تر سره کړې، ده د دې لپاره چې د ده کار ریا ونه بلله سي، ځکه یې نو هیڅ ډول یادونه هم نه ده پر لیکلې، له دې ځایه دا موږ ته د ملک صاحب له پښتو سره لېونی، سپېڅلې او ژوره مینه څرګندېږي.

تر دې وروسته بیا په امریکا کې مېشت فرهنګپال ښاغلي محمد داود مومند له بېنوا فرهنګي ټولنې څخه هیله وکړه چې دا کتاب بیا چاپ کړي او د چاپ لګښت یې هم راولېږي، موږ دا خبره له علامه رشاد بابا سره ګډه کړه، هغه ډېر خوښ و او د مومند بابا په اړه یې ډېرې غوره او نوې څرګندونې وکړې .بیا موږ د سریزې په توګه د دغو څرګندونو د لیکلو ورته وویل، علامه بابا په ډېره خوښۍ سره دا خبره را سره ومنله، خو دربغه چې دا عظیمه هستي زموږ څخه بېله او د ډېرو نورو ارمانونو تر څنګ دا سریزه هم پاته سوه او د دې کتاب د چاپ د ځنډ لامل هم همدا شی و، که نه باید وختي چاپ سوې وای، وروسته له هغه چې موږ د علامه بابا له درنې سریزې څخه بې برخي سولو، نو دلته مو د مومند بابا ژوندلیک راوړ، ځکه زموږ ډېر پښتانه ورونه لا زموږ د دغي لویې هستۍ له وجوده او د هغه له سیاسي، ملي، پوځي، پوهنیزو او ادبي هلوځلو څخه ناخبره پاته دي.

ګوندي وي چې ناخبره پښتانه یې وپېژني او پېژندیو ته یې بیا یاد تازه سي. ارواښاد مومند بابا له پښتو او پښتونولۍ سره ډېره مینه لرله، د دغه په مرکه کې او مجلس کې به بې له پښتو څخه بله خبره نه وه، د هر ځای او هرې سوبې پښتون چې به ده ته ورغی، نو ده به خامخا د پښتو په شا و خوا کې خبرې کولې، د سوچه پښتو کلک ملګری و، د ده په وړاندې چې به چا د بلې ژبې کوم ټکی په پښتو کې راوړ، نو ده به سمدلاسه ورباندې رږغ وکړ چې پوه نه سوم، څه دې وویل؟

که به چا خپله غلطي سمه نه کړه نو په درنه لهجه به یې ورته وویل: چې ها خدای دې وبخښه ! څنګه ښه پښتو دې وویله او س پوه سوم، که موږ نور هر څه یوې خوا ته کړو او یوازې د مومند بابا همدا وړوکې رساله ګۍ غوندي کتاب (لنډکۍ پښتو ) د زړه په سترګو ولولو نو بې له شکه به را ته څرګنده سي، چې زموږ دغه بابا له پښتو او پښتونولۍ سره څومره مینه لرله او که په چا کې لږ غوندې د پښتونولۍ څرک هم پاته وي، هماغه څرک به یې په اور بدل سي او د خپل پښتني ننګ او نام لمنه به ټینګه کړي، نن ورځ پښتانه له عجبه ګواښو سره لاس و ګرېوان دي، د دوی وجود، د دوی هویت او د دوی ژبه له پرله پسې کورنیو او باندنیو ګواښونو سره مخ ده، خو له پښتنو څخه دا ورکه ده، چې زموږ دوست څوک دی او دښمن، مومند بابا د دې لامل شپږ لسیزې وړاندې خپله د پښتنو بې پښتوګي ګڼې. دی وایي پخوانو چې پښتو او پښتونواله ټینګه کړې وه، نو پر ډېلي او اصفهان یې راج چلېدی، خو نن د خپل وجود د رغېدو نه دي، دا چیغاري تاسو په دې لنډکۍ پښتو کې اورېدلای سئ.

توبه- توبه دا دی پر موږ د شوروي د نړیوال زور ناتار هم تېر سوی دی او نن مو ټول مانیز ارزښتونه په خاورو لړل سوي دي، خدای خبر دی چې د مومند بابا او ده غوندي نورو پښتنو باباګانو ارواوې په څومره زورېږي؟

نن چې د پښتو اخبار او مجله ګورئ نو له نورو قامونو څخه به شکایتونه او ماتې ډېرې په کې ووینئ، چې د پښتنو حق خوري او پښتو وهي، دا په دا سې حال کې ده، چې پښتون د افغانستان اکثریت قام هم دی، له دې سره سره چې سم نیم یې لا تر اوسه هم د انګریز په چاړه را څخه بېل دی، خو بیا هم موږ د لړکیو له ګواښه نارې سورې وهو، خو همدا پښتانه به بیا وینې چې خپله په خپلو منځونو کې یو د بل رېښې وهي چې د دې یوازنی لامل پرته د پښتنو د بې پښتوګي او پښتونوالي له هېرېدو څخه بل څه نه شي کېدلای او له دې ناسورې ناروغۍ څخه د ژغورنې یوه خورا کارنده نسخه همدا لنډکۍ پښتو کېدلای سي.

خدای دې وکړي چې زموږ پښتانه ورونه د خپلو درنو باباګانو، درنې وېناوې ولولي، واورې، نورو ته یې واوروي او پند او عبرت او زده کړه ځنې وکړي .

امین یا رب العالمین
د مومند بابا اروا دې ښاده وي
او برکتونه دې یې پر افغان ملت را خپاره وي.
اداره

یادونه: د دې سریزې په لیکلو کې د ګندهارا مجلې دوولسمه ګڼه (1379 کال) د ارواښاد پوهاند صدیق الله رښتین له لیکنې څخه زیات کار اخیستل سوي دي .

## دا رساله

د پښتو او پښتونوالي لنډه نمايندګي کوي.
د پښتو او پښتونوالي مزايا څرګندوي.
د پښتو او پښتونوالۍ حقيقي مفهوم لوستونکو ته ښيي.
د پښتو او پښتونوالۍ د هسکي دنيا پېغام دی.
د پښتو او پښتونولۍ د اسمان د ځلېدونکي لمر يوه ځلېدونکې وړانګه ده.
خو تر ټولو د دې رسالې د ستايلو د پاره يوازې د هغې د ليکونکي شخصيت بس دی چې لوستونکي يې په اهميت پوه شي:
هو ! يوه پياوړی پښتون ښاغلی **محمدګل** "مومند " د پښتو ژبې د ژوند په دې نوې دوره کښې د پښتو د خدمت د لياري له پياوړو او ښاغلو لاښوونکو **څخه** دی، نو پښتو ټولنه دا رساله په ډېر افتخار نشروي او هم د دې پښتون مشر له مرستې **څخه** ډېر ډېر تشکر کوي .

په احترام
عبدالروْف "بېنوا"

## بسم الله الرحمن الرحيم

زما غښتلی ورور عبدالرؤف خان!

زه ښه روغ نه یم نو ځکه لیک او لوست زیان راپېښوي. که ډېر ضرور نه وي نه یې کوم بې دغه سږ کال ختې مې هم درلودې چې درست کال د ورغومي د میاشتې تر سره پورې په هغو اخته وم، په ژمي کښې ختې درېدلې وې او وزګارتیا وه، نو کله- کله به مې د کابل مجلې را واخیستلې او څو کرښې لیا کوم مضمون او کومه مقاله به مې ولوستله. څو ورځې مخکښې مې په (201) ګڼه مجله کښې د غښتلي غروال (چې نوم او کام یې نه پېژنم) د ځواب په ترخ کښې زما او د ځینو نورو پښتنو نه ستا ګیله ولوستله. که څه هم ته حق لرې خو موږ معذور یو او زموږ عذرونه نه دي درڅرګند.

زما خو بې نورو معاذیرو یو عذر د صحت ورانوالی دی، که نه دغه خو رښتیا ده چې پښتو یوازې ستا لیا د څو کسو نه ده.

پښتو د پښتنو نیکونو نه راپاتې میراث دی، چې په دغه کښې درست پښتانه برخه لري او درست پښتانه بشپړه ګټه ځنې اخیستلای شي، خو وېشلای یې نه شي.

پښتو په پښتون لیا نړۍ کښې دغسې ده لکه په کاله کښې بله ډېوه، چې د یوه لیا د دوو لیا د درو کسو نه ده، بلکې د درست کاله د وګړو د هر یوه ده چې د کاله ټول وګړي هر یو بېلابېل برابره ګټه ځنې اخیستلای شي، مګر وېش او برخې، برخې کول یې امکان نه لري. خو چې د ټولو ده نو ښایي چې ټول پرې پام وکړي او ښه یې وساتي او ښه یې سمباله کړي. که ورانه یا ورکه شوه تاوان یې هم ټولو ته رسېږي. رښتیا ده چې پښتو یوازې ستا لار، زما لیا د څو تنو نه ده، بلکې د درستو پښتنو ده او ټول به یې یو شان پالنه او روزنه کوي.

پښتو خورا ګران امانت دی چې د نیکونو نه راپاتې دی او زموږ د نیکونو وصیت دی، چې باید دغه امانت د درست ولس د ګټې او فایدې دپاره بې له خیانته خپلو زامنو، نمسو، کړوسو، کودو، پردو او د هغو نه وروستو ته پرله پسې وررسوو او روغ یې ور وسپارو.

وړاندې وروسته، خوا او شا، ټول ښه او بد ګټه او تاوان هر څه په پښتو راڅرګندېږي. پښتو ده چې ننګیالي نیکونه راپېژني او هغوی ته مو رسوي. پښتو به وي چې زموږ نمسی، کړوسی، کودی او پردی او د هغوی نه وروستني به له موږ سره راښېلوي. د پښتونولۍ اثبات په پښتو سره کېږي د دغه دپاره چې اوسني او وروستني پښتانه ځانونه خپلو پښتنو نیکونو ته ورسوي او ثابته کړي چې دوی په رښتیا سره د هغوی رښتیاني نمسي دي، نو ښایي چې د صرف د اشتقاق د اُصولو په شان لفظي او معنوي بشپړ مناسبت په منځ کښې موجود وي او دغه مناسبت بې له کوم تغیر او خلله ټینګ وساتل شي. که نه په تشو دعواګانو او خوشي خبرو او پرړو نه څوک پښتون کېدای شي او نه یې څوک پښتون ګڼلی او منلی شي.. پښتانه د پښتو اطلاق یوازې پر هغې څرګندې ژبې چې دوی پرې ګړېږي نه کوي، بلکې د پښتنو د وړاندې د پښتو معنی او مفهوم د ژبې نه پرته په حقه دیانت، اسلامي او پښتني خوی او اخلاق، پښتني آداب او عادات، پښتني دود او دستور او د دوی پر درستو ولسي خصایلو، خصایصو، صفاتو او مزایاوو شامل دي چې دغو وروستنو ته (پښتونواله) هم وايي.

د ژبې د اهمیت په موضوع کښې ما د پښتو د ژبې لیارې نامه کتاب په ننتوځ کښې چې څو کاله مخکښې مې تالیف او نشر کړی دی، لنډ شانته څه لیکلي دي ګوندې ځینو به لوستي وي، زما په خیال ښایي چې پښتانه کاکاګان هغه ولولي او ورته ځیر شي او ښه چُرت پکښې ووهي. د پښتونوالۍ په موضوع کښې مې هم غوښتل چې یو کتابګی ولیکم او پیل مې هم پرې وکړ، خو رسمي چارو او صحي احوالو ملګرتیا راسره ونه کړه او رانه پاتې شو.

په هر تقدیر؛ مقصد دغه دی چې پښتو د پښتنو په ولس او جامعې کښې لکه روح په کالبد کښې ده، څنګه چې که په کالبد کښې روح نه وي کالبد خوشي شی دی، همدغسې که د پښتنو په ټولۍ (جامعې) کښې پښتو نه وه نو د پښتنو ټولۍ به خوشي شی وي، بلکې لکه چې روح له کالبده بېل شي، خورا ښایسته وجود خراب، بې ډوله او نږمن ګرځي، چې څوک ورته کتای او ورنژدې کېدای نه شي او هرڅوک ځنې تښتي. همدغسې که د پښتنو نه پښتو لاړه نو د پښتنو جامعه به هم بیدو هماغسې شي .خدای مو دې ځنې وساتي.

پښتو: پښتو منل، پښتو ویل، پښتو کول او پښتو چلول دي .پښتانه په پښتو سره پښتانه وه، ان په پښتو سره به پښتانه وي .

پښتانه په پښتو چلېدلي وه او په پښتو به وچلېږي، پښتانه په پښتو پېژندل شي.

پښتانه په خپل منځ کښې هم په پښتو یو د بله سره پېژني. پښتانه په پښتو سره- سره عزیزان او یو پر بل ګران دي. د پښتنو خپلوي په پښتو سره ده، خپل او پردی په پښتو سره څرګندېږي او بېلېږي. پښتانه په پښتو باندې سره پوهېږي، د پښتنو خوږه مرکه په پښتو کېږي، پښتانه د پښتو نه خوند اخلي.

تر ټولو مرکو خوندوره مرکه د پښتو ده.

پښتانه په پښتو سره خواله کوي، له عزیزه سره عزیزولي، له خپله سره خپلوي، د مشرانو احترام د کشرانو قدر او عزت پر وړو مهرباني او شفقت، د هغوی روزنه، پر هغوی د هر پښتانه پاملرنه دا ټول په پښتو سره کېږي.

پښتانه په پښتو سره یو د بل باباګان، داداګان، کاکاګان، ماماګان، لالاګان، تاتاګان، ورونه، زامن، چوچي او بچي دي او پښتنې هم په

پښتو سره د هر پښتنانه ببۍ، اناوې، ادې ګانې، ترېندې، توړۍ، خوېندې، خورکۍ، لونړې، لورکۍ، چوچۍ او بچۍ دي.
د ولس ښېلوالي او نفاق په پښتو ورکيږي، ځکه چې (اتفاق) او يووالي په پښتو سره راځي، پښتو ده چې له پښتنو نه يو کور، يوه کورنۍ، يو ټبر، يوه کوړمه، يو کهول، او يو ولس جوړوي.
پښتو د پښتنو تفکرات، تخيلات، ذوق او هر څه يې سره يو شانته او يو کوي.
پښتو خورا خوږه وروري ده.
پښتو د پښتنو سره خواخوږي ده.
پښتو صله رحمي ده.
پښتو شفقت دی.
پښتو مرحمت دی.
پښتو مهرباني ده.
پښتو مروت دی.
پښتو ښېګڼه ده.
د پښتو له امله پښتانه يو تر بله سر او مال جاروي او په دغې چارې کښې يو تر بل زومبيکېږي.
کونډې، رنډې، يتيمان، ښوزلي او مسکينان رانده او ګوډ په پښتو ساتله کېږي.
ژوبل، پرهارژلي، ټپي، ويشتلي، ناروغه په پښتو پالل کېږي.
د ضرورت په وخت کښې د هر مسلمان ورور سره بيا په تېره د هر پښتانه سره هر ډول مرسته په پښتو سره کېږي.
پښتو - پښتانه په غم او ښادي کښې سره شريک کړي او شريکوي يې.
پښتو پالنه ده.
چې پښتو نه وي نو بيا به مو سره څه وي؟
په پښتو مو سره سازه وه، په پښتو مو سره سازه ده او په پښتو به مو سره سازه وي.
په پښتو مو سره ورانه وه، په پښتو مو سره ورانه ده او په پښتو به مو سره ورانه وي. آهو خود چې په پښتو سره سازه او ورانه ونه کړو نو په څه به يې سره وکړو؟ که پښتو وه يو د بله خوښ، يو پر بل راضي، يو پر بل به ښاد يو.
که پښتو نه وه يو د بله ناخوښه، يو د بل نه ناراضه او يو به هم پر بل ښاد نه شو، ښادوالی، چېرته او خبره چېرته.
که پښتو وه زه به تا درنوم ته به ما درنوې. که پښتو نه وه ته به ما دګې، زه به تا دګم. ته به ما سپکوې زه به تا سپکوم، دواړه به سره دګلي شو، دواړه به سره سپک شو، ګټه مو وکړه؟؟
که پښتو وه، زما شته ستا دي، ستا شته زما دي، که پښتو نه وه، زه به تا شکوم، ته به ما شکوې. ته به ما تالا کوې، زه به تا تالا کوم، چړې ورې چارې لاس د بري کار دی�که پښتو وه زه به تا ته لاره سيخوم، ته به ما ته لاره راښيې، که پښتو نه وه، ته به ما ته کوهی کينې، زه به تا ته کوهی کينم. نه پوهېږم چې څوک به مخکښې ورلوېږي.
که پښتو وه زه به ستا په شته والي خوښ يم، ته به زما په شته والي خوښ يې.
که پښتو نه وه، ته به زما ورکه غواړې، زه به ستا ورکه غواړم، يو له بله به سره ګورو چې خدای څه کوي.
که پښتو وه ټول به پښتانه يو او درست به په يوې خوا يو، که پښتو نه وه د هر چا خپله خوا ده، يو به يوې خوا ته ځي، بل به بلې خوا ته، يو به يې يوې خوا ته راکاږي، بل به يې بلې خوا ته، ملک به غوبل وي، اور به پکښې بل وي.
که پښتو وه ته به زما سر نه راخوږوې، زه به ستا سر نه درخوږوم.
که پښتو نه وه، ته به زما د سر خوږ يې، زه به ستا د سر خوږ يم.
نور به دې څه سر خوږوم، ټول همدغسې درواخله، پښتو له دښمنه سره ګالنه ده، انتقام پښتو ده.
د پښتانه سره د پښتو د لياري سره سم روغه کول هم پښتو ده، د پښتو د لياري سره سم پښتانه ته ننواتې کول پښتو ده.
د پښتو د لياري سره سم، د پښتانه ننواتې منل پښتو ده، پړه منل او تړه ورکول پښتو ده.
پښتو اصيلتوب دی.
پښتو سيالوالی دی.
پښتو نجات دی.
پښتو عاليجنابي ده.

پښتو عزت دی.
پښتو کښې بې پتي، دګلتوب (حقارت) نه شته، ځکه چې پښتانه يې نه شي منلی.
پښتو ساووتوب او باداري ده.
پښتو درندوالی (وقار) دی.
پښتو د پښتنو درنول دي.
پښتو کښې ټيټال او تملق نشته.
پښتو کښې سپکه نشته، نو ځکه سپک پښتون نه دی.
پښتو کښې پوچه نشته، نو ځکه پوچخولی پښتون نه دی.
پښتو د پوچخولي خوله څيري.
پښتو شرافت دی.
پښتو ښه نيت دی.
پښتو د پښتنو او مسلمانانو خيرغوښتنه ده.
پښتو ښه اخلاق دی.
پښتو سپېڅلتوب (تهذيب (دی.
پښتو روغه پوهه ده.
پښتو تدبير دی.
پښتو پاکوالی دی، چټلتوب پښتو نه ده بې پښتوګي ده.
پښتو فضيلت دی.
پښتو مزيت دی.
پښتو د پښتنو معنويت دی.
پښتو فرحت دی، سېنما، تياتر او هر ډول تفريح ده.
پښتو د پښتنو د روح او ژوندانه ښکارندوی (تابلو، منظره) ده.
پښتو سړيتوب دی او سړيتوب پښتو ده.
پښتو انسانيت ته خدمت دی.
پښتو کښې لويي نشته، پښتو د لويجن سړي سر په تيږه ټکوي.
پښتو کښې ظلم نشته، د لږزورو او بې زورو سره زور پښتو نه ده.
پښتو کښې مظلوميت نشته.
پښتو په خبره درېدل، خپله خبره ترسره کول او په عهد وفا ده.
پښتو غنا ده.
پښتو استغنا ده.
پښتو کښې سوال نشته او سوال او غوښتنه پښتو نه ده.
پښتو قناعت دی.
پښتو په حق درېدل دي .
پښتو کښې ناروا نشته او ناروا پښتو نه ده.
پښتو صبر دی.
پښتو حوصله ده.
پښتو زغم (تحمل (دی.
پښتو کار کول دي.
پښتو هاند او کوښښ دی.
پښتو زيار ويستل دي، زيار کښل په پښتو کښې يو صفت دی چې دوی پرې سرلوړی کوي او پښتانه پرې ستايل کېږي. لټي، بېکاري، نازولتوب بې پښتوتوب دی.

پښتو دین، وطن او د پښتانه ولس ته خدمت دی .
پښتو ایثار دی.
پښتو فداکاري ده.
پښتو د اسلام، د پښتو او د پښتنو د شته والي دپاره ځان نشت کول دي .
پښتو تکړه توب دی.
پښتو غښتلتوب دی.
پښتو ښاغلوالی دی.
پښتو رښتیا ده.
پښتو کښې خیانت نشته.
پښتو کښې دروه نشته.
پښتو کښې ټګي نشته، ټګ پښتون نه دی.
پښتو کښې غلا نشته .
پښتو کښې تالا نشته .
پښتو کې ظلم نشته، ظلم بې پښتووالی دی.
پښتو د مظلوم حمایه ده په نیمې شپې کښې له غړه سره سم د پېښې ځای ته ځان رسول پښتو ده. غله، جاني او خاین پسې چیغه ویستل او نیول یا یې وژل پښتو ده.
پښتو صداقت دی.
پښتو کښې دروا غ نشته او دروا غ بې پښتو توب دی، نو یو پښتون نه شي کولای چې د ځان د ګټې لیا کومې توزنې هیلې لیا د خپل موقعیت ساتنې، لیا کوم ضرر او تاوان نه د ځان ژغورنې دپاره دوا رغ ووایي.
پښتون رښتیا وایي، هر چېرې یې وایي، هر چا ته یې وایي او هر کله یې وایي.
پښتون رښتیا وایي، که څه هم پر سولۍ وخیژي.
پښتو پاک زړه دی.
پښتو سلیم وجدان دی .
پښتو ده چې پښتانه له بدو چارو ساتي .
پښتو ده چې پښتانه له بدو لیارو څخه را جارباسي.
ښو ته مخه په پښتو کېږي.
پښتو دوا ده.
پښتو شفا ده.
د پښتنو رنګ په پښتو ښه کېږي.
پښتو د پښتنو د زلمو ښکلا او د پېغلو ښایست دی.
پښتو د پښتنو ګاڼه ده.
پښتو پسول (زینت) دی.
پښتو حیا ده.
پښتو د پښتنو جامه ده او حیا یې پرې ساتلې ده.
پښتو د پښتنو د نارینه وو پګړۍ او د ښځو ټیکری او پوړنی دی.
پښتو د پښتنو د ښځو ستر دی.
پښتو عفت دی.
پښتو عصمت دی.
پښتو د پښتانه د ناموس ساتنه پر هر پښتانه لازمه ګرځولې ده، پښتانه د پښتانه د ناموس په ساتنه کښې په سر او مال ولاړ وي .
که یو پښتون په خپل کاله کښې نه وي او نژدې خپل هم ونه لري، د هغه د مال او د ناموس ساتنه، د کاله خدمت یې حتی چې د کاله لګن (مخارج) یې پر کلیوالو او ګاونډیانو دی، پښتو همدغسې معامله د هر چا په حق کښې لازمه کړې ده، چې د پښتنو په سیمې کښې پروت

وي، که څه هم پښتون نه وي او بل څوک وي.
پښتو ده چې د پښتنو سر او مال تر ناموس جاروي .
پښتو سمه عقیده ده.
پښتو ایمانداري ده.
پښتو پر مسلمانۍ ټینګېدل دي.
پښتو سعادت ته ورغلې سمه سیخه لاره ده.
پښتو ډاډ (اطمینان) دی.
پښتو اتیتې (توکل) دی.
پښتو په پښتنو اعتماد دی.
پښتو پر ځان باور دی.
د مېلمنو پالنه د پښتنو ځني ده.
پښتو ډوډۍ ماري ده.
ورکړه او سخاوت، د بې وزلو سره مرسته لویه پښتو ده، د پښتانه په سیمه کښې د هر چا سر او مال او ناموس په پښتو سره ساتلی دی او څوک چې د پښتانه هېوادوالو ته تاوان ورسوي د هماغه پښتانه دښمني به هم مني، د پښتو تقاضا دا ده چې د سیمي خاوند د متجاوز نه د خپل سیمووال مال یا یې تاوان واخلي، د پښتانه په سیمه کښې تجاوز له دغه پرته ښېله جریمه او جزا هم لري.
که د پښتانه په سیمه کي د پښتانه پر سیموالو حمله لیا د هغه پر ناموس تجاوز وشي، لیا پکي څوک ووژل شي، نو د متجاوز جزا وژل دي او وینه یې هم توی ده او که په تېښته موفق شو ، نو وروسته به هم د سیمي خاوند د پښتو د لیاري سره سم له هغه نه بدله او کسات اخلي.
جهل په پښتو ورکېږي.
علم په پښتو زده کېږي.
زدکړه په پښتو کېږي.
پښتو د علماوو منه او احترام دی.
له سیالانو سره سیالي او له نړۍ سره برابري په پښتو کېږي.
د وطن مینه پښتو ده.
کار کول او د وطن ودانول په پښتو سره کېږي، پښتو د پښتنو د بري او لوړوالي ضامنه ده.
پښتو د پښتنو د لوړوالي وسیله ده، یعنې د پښتنو او پښتونوالي، ترقي په پښتو سره کېدلای شي.
پښتو د سعادت وسیله ده یعني سعادت یوائې په پښتو سره پښتنو ته په لاس ورځي، د ژوندانه خوند په پښتو اخیستل کیږي.
پښتو شته (ثروت (دی.
پښتو پانګه (سرمایه) ده.
پښتو ګټه ده.
پښتو کي د دوارو نړیو ګټې دي.
پښتو اقتصاد دی، ولې چې پښتو پښتنو ته امر کوي چې کار وکړئ او زیار وکاږئ، پښتو پښتانه ته اجازه نه ورکوي چې بېځایه او بې دوده لګښتونه (مصارف) وکړي یعنې پښتو نه پرېږدي چې پښتانه په ناروا او ناجایزو لارو کي چې دین، اخلاقو او پښتو روا کړي نه وي څه ولګوي.
پښتو ، پښتانه سړي ته اجازه نه ورکوي چې د ځان د ګټې دپاره بل چا ته تاوان ورسوي، لیا خیانت وکړي، بلکي بالعکس پښتو غواړي چې پښتون سړی د نورو پښتنو او مسلمانانو د ګټې دپاره د ځان تاوان وکړي او پرې خوښ هم وي.
پښتو آزادي ده.
پښتو قوت دی.
پښتو مقاومت دی.
پښتو اقتدار دی.
پښتو حاکمیت دی.
پښتو عظمت دی.

پښتو شوکت دی.
وطن په پښتو ژغورل کېږي.
سیمه په پښتو ساتله کېږي، په پښتو کلکېږي او په پښتو درنېږي.
پښتو پښتنو ته مړینه ډېره خواره کړي او مرګ ورته حقیر کړی دی.
پښتو د دین، پښتو، وطن او د پښتنو نیکونو د نامه او د پښتنو د ټولې د ګټې او پت د ساتنې دپاره پښتانه د مقتدرو او غدارو دښمنانو په مخکې درولي او کلکو جګرو ته یې څېلمه کړي او په سرو وینو یې لړلي او رغړولي دي او لړي او رغړوي یې.
پښتو د پښتنو ککری د پښتنې او ولسي غروره څخه ډکي کړي او پښتانه یې په پښتو نښه کړي دي.
پښتو زړورتوب دی، ځکه چې پښتانه په دې خبره ایمان لري چې ګټه او تاوان، عزت او ذلت هر څه د خدای څخه دي، بې د ده د ارادې نه هیڅوک هیڅ هم نه شي کولای، نو ځکه پښتو کې وېره نشته او پښتانه نه وېرېږي.
پښتو لوړ همت دی.
پښتو ننګ دی .
پښتو حمیت دی.
پښتو غیرت دی.
پښتو جرئت دی.
پښتو اراده ده.
پښتو هوډ (عزم) دی.
پښتو متانت، ثبات او استقامت دی.
پښتو حزم دی.
پښتو حلم دی.
پښتو توره ده.
پښتو د پښتنو هغه مهمه وسله ده چې په هر ډګر کې یې دوی بریالي کړي او هیڅ یوه وسله ورسره مقابله نه شي کولای.
پښتو تورزنتوب دی.
پښتو نارینتوب دی.
پښتو مړانه ده.
پښتو د پښتنو هرګوره کلک سنګر دی.
پښتو د پښتنو نه چاپېره خورا کلکه کلا ده.
پښتانه د ژوندانه درستې ګرانې یوازې په پښتو ځغملی، له سره اړولی او له ځایه لیري کولای شي.
د ژوندانه په تیارو کې پښتانه یوازې د پښتو په رڼا لاره میندلای او سیخولای شي.
پښتو لطف دی.
پښتو معنا ده.
پښتو دعوه ده.
پښتو اثابت دی.
پښتو نتیجه ده.
پښتو حکمه ده.
پښتو حاکمه ده.
پښتو حکم دی.
پښتو قانون دی.
پښتو پرېکړه (فیصله) ده.
پښتو ضابطه ده.
پښتو نظام دی.
پښتو انتظام دی.

پښتو سمبالونه ده.
امنیت په پښتو کې دی.
خواخوږي په پښتو کې ده.
حریت په پښتو کې دی.
عدالت په پښتو کې دی.
پښتو نیاو (انصاف (دی.
مساوات په پښتو کې دی.
په پښتو کې هغه رښتیني ډیموکراسي ده چې ټګي، چل ول، افراط او تفریط پکې نشته.
ظلم او ستبداد په پښتو ورکېږي.
ظلم په پښتو خربشوی کېږي.
د مستبدانو سر د پښتو په تیږه ټکول کیږي.
د ولس او وطن رښتینی او خادم په پښتو پېژندل کیږي.
د دین، وطن، پښتو، او پښتنو خاین په پښتو څرګندیږي.
د ظالمانو، مستبدانو سته او ولي په پښتو ویستل کیږي.
پښتو کې کشران د مشرانو دپاره او ولس د حکومت دپاره نه دي، بلکې مشران د کشرانو دپاره او حکومت د ولس دپاره دی، د دوی موقعیت او احترام د پښتنو په سترګو کې د دوی د خدمت په تناسب دی .
پښتو د سمو مشرانو مننه ده.
پښتو د خاینو مشرانو رټنه ده.
ډګر په پښتو ګټل کیږي.
خلاصی او نجات په پښتو کې دی.
جنت پر اسلام باندې په پښتو کولو ګټل کیږي، حوري، غلمان، او د جنت بېشمېره نعمتونه پښتنو ته په پښتو لاسته ورځي.
پښتو د پښتنو د دواړو نړیو سعادت ضامنه ده.
پښتو د پښتنو د وړو روزونکې) مربي) ده، د زلمو، د زړو قوت او خوشحالي ده، د زړو لکړه او امسا ده.
پښتو د پښتنو د ژوندو ساه او د مړو کفن دی.
پښتو پښتنو ته د پښتني ژوندانه لاره ورښیي.
پښتو د پښتنو د ژوندانه نه ونجېدونکې او نه بدلېدونکې کړنلاره، دستورالعمل او پروګرام دی.
د پښتنو د دواړو نړیو چاري یواځې په پښتو سره سموالی میندہ کوي.
پښتو پښتنو ته د مړیني ډول او دود ورښیي، مړینه هم خدایږو په پښتو سره خوند کوي.
پښتو د پښتنو لوی ناموس دی.
پښتو د پښتنو د ټولني روح دی.
پښتو د پښتنو روحونو او معنویاتو منځی (مرکز) دی، یعنې د پښتنو روحونه او معنویات په یوه ځای کې غونډوي.
پښتو د پښتنو لالی ده.
پښتو د پښتنو هغه حق دی چې یو ځای ورسره زېږېدلی دی.
پښتو خو نو پښتو ده، پښتو ده.
پښتو ده، او پښتو) پښتونوالہ) ده.
د پښتنو سره لوړوالی په پښتو دی.
پښتو په پښتنو دربدل او سر ومال ترېنه ځارول دي.
پښتانه په پښتو نازېږي .
پښتانه په پښتو سرلوینه کوي.
په وروستۍ کې تللې پښتو هم په پښتو راګرځي، لنډه یې دغه چې د پښتنو شته والی په پښتو سره دی او پاینه (بقا) به یې هم په پښتو سره وي.

پښتانه په پښتو ولاړ دي، که پښتو نه وي پښتانه غورځيږي، پرزيږي، ستړه يې خيژي او ورکيږي.

پښتو غواړي چي د پښتنو درست زده کړي ويښ ځلميان،هر يو پوه، حساس پښتون، د تللي پښتو د ستاينې، راګرځونې، راڅرګندونې، ارتوالي، لوړوالي او خپروني په ليار (تعميم) کي، خپله ټوله مادي او معنوي قوا په کار واچوي او د خپل وسي او توانه سره سم هاند وکړي. درستي بې‌نظمۍ، ټولي ناکلارۍ او ناهوسايۍ د بې پښتوګۍ څخه راپېښي دي، بې پښتوګۍ د غومره بيرته پاتي کړي يو، د بې پښتوګۍ له امله دغومره ټيټ لويدلي يو، د بې پښتوګۍ له لاسه ټوټې ټوټې يو، ځانځاني، د بې پښتوګۍ څخه منځته راغلي ده.

درستي بښکولي) ټول فلاکتونه او مصيبتونه) د بې پښتوګۍ والي له کبله رارسيږي او نوري لانجې به د همدغي لاري نه راپېښي شي. حکومت د بې پښتوګۍ له امله اريان دی او لاره يې ورکه کړې او ولس د بې پښتوګۍ له لاسه بې پته، خوار، زار او ورک دی، ټول د بې پښتوګۍ په اور سوي يو، د بې پښتوګۍ په اور سوځو، د بې پښتوګۍ په اور کړېږو، د بې پښتوګۍ په اور وريتېږو، ښايي د بې پښتوګۍ دلاسه وژاړو، د بې پښتوګګۍ دلاسه کوکي او سورې وهو !وای پښتو !ارمان پښتو!

پخوانيو پښتنو، پښتو تر هر څه ښه او پښتانه يې تر هر چا لوړ ګڼلي او په خپلو تمامو قواوو به يې هاند کاوه، چي پښتو وکړي او پښتو وساتي، په دغي لاري کي به يې مالونه او سرونه ښندل، بې پښتوګي به يې خورا بده ليدله او سپيتانه يې ګڼله، په هغه مهال کي پښتونواله او مړانه په سيالۍ وه لکه چي اوس بې پښتوګي او سپيتانه په سيالي ده.

پښتو ده چي د وطن، نامه، ناموس، شرافت، حيثيت او بالآخره د پښتو د ساتنې دپاره يې پښتانه د سکندر، چنګېز، تېمور او نورو نړۍ نيوونکو په مخ کي ودرول او د نامه خاوندان يې کړل، چي نېټه‌ليک (تاريخ) پرې شاهدي لولي او ټول خلک پرې قايل دي، چي اوس د دوی چارليکونه (کارنامې) په غټ قلم او په سرو زرو ليکل کيږي او موږ پرې سرلوړي کوو. پښتو ده چي په پښتنو باندي يې هغه چاري وکړي چي خلک ورته ګوته په غاښ نيسي او ښه شابسی پرې وايي.

هو !همدغه پښتو وه چي پښتانه يې د پښتو نيانۍ له غرو څخه لکه توی وبهول او د کلکتې او برما تر ټکه پوري يې ورسول.

هوکې !پښتو وه چي د پښتنو يو ټولګی يې تر اصفهانه پوري ورساوه او هلته کي يې څه و څه پرې وکړل، دا خو پښتو وه چي پښتنو منځنۍ اسيا خوځوله، پښتو د منځنۍ آسيا تالنده (رعد ) او پښتانه يې تندر (صاعقه) و، پښتو وه چي په پښتنو يې د سرو زرو مرغۍ ساتله او شندان يې ورته نه پرېښودل چي ويې نيسي او که چيري وبه يې نيوله، ژر به يې بڼه او ښوکي وروشکولې او منګولي او وزرونه به يې ورمات کړل او د سرو زرو مرغۍ به يې تر ښه خلاصه کړه.

دا خو پښتو وه چي د پښتنو نه د هر چا سترګه سوځېده او دا پښتانه وو چي د سرو زرو مرغۍ ته يې څوک نه پرېښودل او له همدې کبله د سرو زرو مرغۍ مينان لېوالان تل پښتو او پښتنو ته به په غوسه وو او غاښونه به يې ورته چيچل خو د پښتنو نه د پښتو پولادي کلا او سنګر چاپېره و او د پښتو خورا مهمه وسله يې په لاس کي وه، هر چا چي بريد کړی دی ماتي يې کړې او ناکامه او شرمېدلي بېرته ګرځېدلي دي، د پښتو سره هيڅ نه کېدل او هيچا خپله مخه نه ليدله، وروسته خلک پوه شول چي په زور سره هيڅ نه شي کېدلی، نو چُرتونه بې وهل چي ګوندي په کوم علمي پټ چل سره د پښتو سنګر مات او د پښتو کلا ورانه کړي او د پښتو وسله د پښتنو له لاسه وغورځوي او په دغه ډول پښتانه مغلوبه کړي، دغه و چي متخصصين يې ورته کښېنول چي د پټو جګړه بيزو وسلو په څېر نوی چل ورمينده کړي، تر څو چي ډېرو ماهرو متخصصينو د ديني، اجتماعي، سياسي، اقتصادي او علم النفس د علومو په مرسته د نوو عصري آلو او وسلو په څېر نوي چلونه يې و ايستل، چي حقيقتاً پښتو او پښتنو د هغو چلو په مخکي مقاومت ونه شو کړی او مغلوبه او حتی چي په وروسته کي خوار او ذليل شول او دغه خبره چي کلا له دننه څخه فتح کېږي دلته بيا خورا ښه مصداق مينده کړ. څه يې وکړل؟ او څنګه يې وکړل؟ د هغو تشريح او بيان نه شم کولی او په دغه ليک کي بيانيږي هم نه، بلکي کتابونه غواړي.

د پښتو او پښتونوالۍ تشريح چي د انساني، اسلامي او پښتني فضايلو بيان دی او د پخوانو پښتنو د اخلاقو، آدابو، عاداتو، دود او دستور او د ژوندانه د ډول او څه او څه ښوونه ده، حقيقتاً خورا ګران کار دی او د هر چا د لاسه نه دی پوره، لکه چي متل دی چي "پښتو چا ترسره کړې نه ده "همدغسي چا بشپړه څرګنده کړې هم نه ده، بالفرض که څوک وغواړي چي په دغه موضوع کي څه وليکي نو په يو کتاب نه کيږي بلکي بايد چي کتابونه وليکي، زما غوندي خلک چي بشپړ علمي استعداد او قلمي توان ونه لري، د تېرو او اوسنيو پښتنو حال او احواله څخه پوره خبر نه وي، پښتنو کي شوي او د پښتنو سره لوی شوي نه وي، د ټولو پښتنو په کليو او کامونو کي ګرځېدلي او ډېري شپې يې پکي کړي نه وي، زيږه پښتانه سپين ږيري او سپين سري يې ليدلي نه وي، د هغوی له خولي يې د پخوانۍ پښتو او پخوانيو پښتنو غوري او کيسې اورېدلي نه وي، پېښي او واقعات يې له سترګو تېر شوي نه وي، روغه پوهه، تېره نظر او مکمله مميزه قوه ونه لري، لنډه يې دغه چي يو پياوړی (داهي) سړی نه وي، نو هغه به د پښتو له بشپړ بيان او تشريح څخه عاجز وي.

زه هيله کوم چي په موږ کي دغسي سړي مينده شي چي ښېله اروپايي او امريکني ليا نورو پردو سترګو نه په خپلو پښتني سترګو پښتنو او پښتو او د دوی اوس او پخوا ته وګوري او د رښتينو پښتنو صفات او مزايا او اخلاق او د رښتينې پښتو او پښتونوالۍ حقيقت څنګه چي

ښايي، بيان او ښرګند کړي، ترڅو چې ننني پښتانه ځلمي پوه شي چې د څه راز خلکو نمسي دي او د دوی نيکونو څنګه مزايا او اخلاق درلودل؟ پښتو او پښتونواله څه شی و؟ او څه شی دی؟ چې د هغې له مخي نه ځان او خپله وظيفه وپېژني او د تګ لاره او ليکه ورځرګنده شي او په هغې وخوځېږي، اوس خو ډېر ځملي د پاړسو او ډوډۍ او نور څه په غم کي دي، موږ يو اروپايي ولس نه يو چې د هغوی ديانت او معتقدات، اخلاق، آداب، عادات، او دود او دستور او د ژوندانه ډول ولټوو او هغه ومنو، او زده يې کړو، دغه زوړ شوی خوسا مدنيت چې نتيجه يې دوی ته هم ورښرګنده شوه او ډګر کي ده، موږ ته نه دی په کار، موږ امريکايي، افريقايي، چيني ليا جاپاني ليا بل څوک نه يو چې د هغوی پېښې وکړو او ځانونه د هغوی په څير کړو، موږ ترک، پاړسيوان (ايرانيان) او هندي هم نه يو.
موږ بې نومه او بې نښې نه يو، وړکوټی ولس هم نه يو، موږ د آسيا په منځ کي د نامه خاوندان يو، منځګوري آريايي ولس پښتانه يو او مهم جغرافيايي موقعيت لرو چې نړۍ موږ پېژني او زموږ د نيکونو چارليکو ته په ښېټې (تاريخ) کي ښکلي شوي دي، څه کيږي که اوس پرېوتلي يو، د خاوند اراده ده، ناشکري به مو کړې وي، دغه حال له ځانه موږ ته نه دی راپېښ، زمانه ډېر مد او جزر لري نورو باندي هم دغسي حالونه ډېر راغلي دي، مګر په هغه ولې کي چې او به تيري شوي وي بيا تيرېږي. او سني پښتانه چې غورځېدلي، پرځېدلي او پرېوتلي او په خورا بد حال کي دي بيا هم د هماغو تېرو پښتنو نمسي دي. يو څو کسه او څو کورنۍ که وي مستثنا نورو کي لا د اروپا په ټوک ښکلې مدنيت دومره ډېر تاثير نه دی کړی، چې حتی وينه يې هم وربدله کړې وي، د او سنيو پښتنو وينه هماغه پخوانۍ پاکه پښتني وينه ده، فطرت خو يې هم نه دی بدل شوی نو ځکه څوک دا ګومان نه کوي چې ګني خپل استعداد يې هم بايللی، نه! هماغه وينه ده او هماغه استعداد دی، خدای ته مو هيله ده چې بيا سر جګ کړي او له خپلو نيکونو نه هم پسي ورتېر شي.
څه ګګران کار نه دی که پوه، پياوړي او سپېڅلي پښتانه مشران مخکښې شي او د پښتو په غړ پښتانه راوېښ کړي، ټول يو ځای او يو کاندي او د پښتو په خوا يې وخوځوي. د بې پښتوګۍ مخه ونيسي او بې پښتو واله ورکه کړي، ډېرو د لږکيو (اقليت) په ټکي تېر نه ووځي او د دغو لږکيو (اقليت (له غمه مو خلاص کړي او يو نسل زموږ د رښتينې پښتو له روحه سره سم وروزي او عصري تعليم هم ورزده کړي، بيا نو څه غواړي پنځلس شل مليونه ولس او هغه هم پښتانه څه نه شي کولی؟ نور به يې ونه مني، پرړي به يې بولي مګر موږ پښتانه د پښتو له مخي پوهيږو چې څه نه شو کولی؟ هغه څه کولی شو چې نور يې نه شي کولی، هر څه او هر څنګه چې وي زه وايم چې موږ ته د اروپا خوسا پرتوګ غورځولی مدنيت نه دی په کار، موږ بايد د ځان دپاره لکه پخوا بېل مدنيت جوړ کړو چې هغه مدنيت پرته د اروپا او نورو مدنيتو څخه وي، د پښتو پښتني مدنيت وي. هو کې! موږ د فن او صنايعو له پلوه دوی ته اړ يو ښايي چې دغه د دوی نه زده کړو او زموږ دين هم موږ ته امر کوي چې (الحکمآ ضالآ المومن اينما وجده اخذه) خو پرته له دغه نه د دوی نور څه ته اړ نه يو او نه ښايي چې په هرڅه کي د دوی پېښې وکړو او د دوی معتقدات، اخلاق، آداب، عادات، دود او دستور...هر څه په پټو سترګو ومنو، هو! زموږ په وطن کي دغسي ځلمي شته چې د اروپا مينان او لېوالان دي، غواړي چې موږ په هر څه کي د اروپا په څېر شو، هر څه د دوی ومنو او خپل هر څه ايسته ليري واچوو، دوی پښتو او پښتونوالي نه بده مني، که څه هم په ظاهر کي ځان "اوغان "بولي مګر په زړه کي يې پښتانه او پښتو بده ايسي. دغه څوک دي؟ ايا رښتياني پښتانه دي؟ که پښتانه وي نو ولې دغسي دي؟ په هغې کي به اوس نه ګډېږو او نه پکي ګړېږو دغه څېړنه به اوس پرېږدو دغلته نه ځايېږي.
زما خپل نفس يې نه مني چې موږ په بل چا پسي لاړ شو، ړانده نه يو چې لکړه مو د بل چا په لاس کي وي، دومره ناپوه هم نه يو چې لکه واړه د خپل ژوندانه چل به هم نه راځي او په بل پسې به منډې وهو! لېوني هم په خپله خوښه ژوند کوي نه د بل چا په خوښه، بيزوګاني هم نه يو چې په هرڅه کي به د نورو پېښې کوو، موږ خپلواک، مستقل مزاجه پښتانه يو، زموږ هر څه به زموږ په واک کي وي، مدنيت به مو هم خپل او پښتني مدنيت وي يوه خبره غوره ده چې (چا د يوه کاکړ نه پوښتنه وکړه چې کاکړ په چا ورځي؟ مدعا يې دغه وه چې په کومه لويه پلرينه ګډېږي .کاکړو ويل چې کاکو کاکړ په هيچا نه ورځي، که څوک په کاکړ راځي راځي دي او که نه راځي خوښه يې، کاکړ په چانه ورځي) نو موږ مجبور نه يو چې په خوراک او څښاک، مړۍ او اغوستو کي د کور او کلي په جوړوني کي په ناسته او ولاړه، په خبرو او هر اوضاع کي... په هر څه کي لکه چې ځيني وايي او غواړي د اروپايانو په څېر شو، نه! موږ موږ يو او اروپايان اروپايان دي او نور نور دي، اوس هم پښتانه له مخي ورک نه دي، پښتو او پښتنواله هم بشپړه نه ده، واک زموږ خپل زده کړي ځلمي (نګه، پښتانه ځلمي) به خپله پښتو راڅرګنده کړي، راوبه يې ګرځوي دغسي د پښتو مدنيت به راته جوړ کړي چې د خپلو سترګي وبريښوي. که څوک راپسې راځي راځي دي، که نه موږ په چا پسې نه ځو، هغه څوک چې بې له دغه څه غواړي هغه به پښتون نه وي، ځکه چې پښتون په پښتونوالۍ سره پښتون دی او پښتونواله هم دغه غواړي، بېزو پښتون نه دی او پښتون هم بيزو نه دی. که څه هم سمدلاسه پښتانه پرځېدلي او څانګي وانګي پرېوتلي دي، پر ستوني باندي يې خلکو پل اېښی په ملا پرې کړي او دوه بولکه څه چې لا ټوټې ټوټې♥دی، د ساه کښلو لاره يې هم نه شته او ټوکړې ټوکړې دي، د دې ټوټو يو د بله سره پيوند کېدل او بيا د يوې تنې جوړېدنه او آزاده ساه ويستنه سلامتيا او تکړه توب يې لکه پخوا ډېر ګران برېښي. دغه تېرې خبري که څه هم يوائې تمنيات دي، مګر خدای لوی دی او په هر څه قادر دی پښتانه دده بندګان او سپين مسلمانان دي، د ده په دين

باندې کلک ولاړ دي، تل يې خپل سرونه او مالونه د ده د دين په لاري کي د ده د رضا دپاره ښندلي او ښندي يې، که شيطان کله په پوټکو ورننوتلی وي او په ځينو مواردو کي يې غولولی وي او د نشتمنۍ، فقر او لوږي له امله) چي د ده حبيب له هغې نه خپل خاوند ته پناه غوښتې ده ) او په ناپوهۍ څه سهوه ترې شوې وي هيله مو ده چي په خپلي مهربانۍ سره راته هدايت وکړي، عفوه وکاندي او د پښتنو ټوټې- ټوټې شوي اندامونه بېرته سره ورولي، پرهارونه يې ورغوی، د ستوني لاره يې ورخلاصه کړي، درستي ناروغتياوي ترې ليري کړي، روغ رمټ او تکړه يې کړي او په رښتيا سره يې د خپل کاله او ملک واکمن کړي، د کار سړي پکي شته کړي او دغي بدحالۍ نه نجات ورکاندي.

"والله غفور الرحيم"

ښايي چي پښتانه ځلمي زموږ د کار سړي او ځانونه ونه بايلي، بې هيلي نه شي همت ټيټ نه کړي متانت او استقامت له لاسه ورنه کړي پر خدای توکل وکړی پښتو او پښتونواله را پر سره کړي، پښتانه د پښتو په غړوېښ او د پښتونوالۍ پر لاري يې وخوځوي، د مسلمان او پښتانه دپاره بې هيلي او نا اُميندي نشته) الا ان حرب الله هم الغالبون ) بې هيلي کفر دی، بې هيلي ډېر خلک د نجات او موفقيت له وره څخه بېرته را گرځولي دي، مېړه او بيا پښتون سړی هېڅکله بايد بې هيلي نه شي، پښتانه ځملي خپله ديني او پښتني وظيفه بايد پر ځای کړي، بيا د کېدلو او نه کېدلو مسوول يې نه دی ځکه چي هغه د خدای په قدرت کي دی، هر زده کړی ځلمی، هر حساس پښتون، په خپل کاله کي، په خپلې کورنۍ کي ، د خپلو دوستانو ، عزيزانو سره، د خپلو گاونډيانو سره، په دېرو او ډېو کي په هري ډلي کي د خپل چم گاونډ او خپلو کليوالو سره په جوماتونو کي، په ودونو کي، په هري ټولني کي ښايي چي د پښتو مرکه جوړه کړي، چي کومه خپه پښتو ده او کومه پښتو نه ده څه پښتونواله ده او څه بې پښتوگي، پخوانۍ پښتو زموږ څنگه وه؟ او اوسنۍ بې پښتوگۍ له کومه شوه؟ نور له کومه راغله څنگه راغله، څنگه پاتې شوه د هغو لړکي څنگه راباندې غښتلي شول؟ لړکي ولي ښاغلي شول؟ پښتانه ولي نتلي شول؟ پښتو به کله را وگرځي؟ څنگه به را وگرځي، څوک به يې را وگرځوي؟ د نورو پېښې څنگه پرېږدو څنگه به ترې لاس واخلو؟ د پښتو او پښتونوالۍ په ساتنه او راگرځوني کي د هر پښتانه وظيفه څه ده؟ دا د هر پښتون وظيفه ده چي تنۍ دي وشکوي، منډې دې ووهي، هاند به کوي، ځان به وژني او پښتو به گرځوي، څوک چي څه ليکلی شي په اخبارونو کي، په مجلو کي دي مقالې وليکي دا لازمه نه ده چي خورا لوړه ادبي مقاله دي وي. نه ! د چا چي څه زده وي هر څه او هر څه چي ليکلی شيو هغه دي وليکي د پښتو غږ دي وکړي او خپل خيال دي ښکاره او خپل اخلاص دي ځرگند کړي. څوک چي کولی شي په ټولنو کي، په راډيو کي دي ويناوي وکړي، کتابونه دي په پښتو واړوي، که پښتو سره پښتو ونه شي پښتو تللې او پښتانه هم د همدغه له امله وړي، ترې، بربنډ ، بې کوره، خوار-زار، سپک، نتلي او څه وي.

موږ خو هم خاوره لرو ، اوبه لرو ، غرونه لرو ، رغونه لرو ، ډاگونه لرو ، ځنگلونه لرو او په نورو ولسونو ، وطنونو کي هم همدغه وي. نه بل څه، بلکي زموږ د ملک استعداد پر ډېرو ملکونو زيات دی، زموږ په غرونو کي هر ډول او خورا ډېر درنگونه) معدنونه ) دي، چي په بل ملک کي نه مينده کېږي؟ ککړی لرو ، ماغزه لرو ، لاسونه لرو ، پښې لرو ، نو ولي وږي يو ، ترې بربنډ يو ؟ مملکت لرو ، نفوس لرو ، مفاخر، تاريخ، دولت، حکومت، استقلال هم لرو ، نو ولي خوار يو ، نتلي يو ، رټلي يو ، سپک يو ، ورک يو ، دا ځکه چي پښتو نه لرو ، پښتونواله نه لرو ، هر څه رانه خلکو تالا کړي، وړي دي او وړي يې، کار کوو د بل دپاره، ځانونه وژنو د بل دپاره، وطنونه گټو د بل دپاره، خپل خپلوان او ورونه، عزيزان، خپل مشران، خپل کشران سپکوو او وژنو د بل دپاره، ولي؟ ځکه پښتو نه شته، پښتونواله نه شته، خلک خپل شته والی ساتي، خپل نفوس ډېروي، خپله ډله لويوي، د خپل ولس غم کوي، خپلو وږو ته ډوډۍ پيدا کوي، خپل لغړ پټوي، خپلو بې کور ته کور جوړوي، خپلو وزگارو ته کار مينده کوي، خپل وطن ودانوي، خپل واړه روزي، خپل وران اخلاق سموي، خپل علم، خپل صنايع ډېروي، خپل مدنيت لوړوي، د خپل کام د عزت د ساتني دپاره هاند کوي، مگر زموږ وجود ټوټې- ټوټې دی، په غونډولو کي يې نه يو ، بلکي د بل چا په ټوټک په دا کي يو ، چي لا يې هم په وړو وړو برخو او ټوټو ووېشو ، پښتني شته والی نشته او نه يې غواړو ، د نفوسو ډېروالی مو څه کوې چي په لږوالي کي يو ، د تربگنۍ، گوندۍ او څه او څه په نامه د پردو په ټوټک سره وژنو ، خپله ډله وړوو ، خپل نفوس لږوو ، د ولس غم مو نشته د هر چا سر د ځان غم دی او د هيچا سره د بل غم پيدا نه شو. د کوم وږي په لاس کي که څه روټه يا سوکړک وي هغه هم ترې اخلو او لا يې پسې وږي کوو. لغړو ته جوړانگي هم نه پرېږدو ، خلک له گنډړو هم شړو ، وزگارو ته کار مينده کول څه کوې چي لا د خلکو نه کار اخلو او د کار خلک وزگاروو ، وطن دومره ودان نه شو لکه چي وران شو. د وړو روزنه نشته، د خلکو بد اخلاقي سمول لا پرېږده چي سم اخلاق مو ورا ن کړل. علم نشته، صنايع نشته، خپل مدنيت پسې نه گرځو ، خو د اروپا مدنيت د شپې او ورځي ستايو ، دغه په موږ کي فضيلت دی، خپل کام ته عزت ورکول او درنول څه کوې بلکي د شپې او ورځي د دوی په بې پتي او سپکوالي پسې يو ، پالنه نشته، خواخوږي نشته، څه نشته څه نشته... هيڅ هم نشته، مشران ځان له دي، موږ ځان له يو ، ولي؟ ځکه چي پښتو نشته پښتونواله نشته.

خبره لنډه کړم چي د پښتنو دپاره که پښتو او پښتونواله نه وي، هيڅ به هم نه وي، اروپايي توب او نور هيڅ هم زموږ په درد نه خوري او يو هم زموږ دردونه نه دوا کوي. زموږ د ټولو دردونو دوا ، د درستو خوږو علاج همدغه يوه نسخه ده، چې هغه هم پښتو او پښتونواله ده، زموږ

د ټولو پرهارونو ملهم همدغه یو ملهم دی، چې پښتو ده زموږ د ژوندانه، زموږ د کارونو، زموږ د دوارو نړیو د سعادت دپاره همدغه یو پروګرام او کړنلاره ده، چې هغه هم پښتو او پښتونوالي ده، بیا وایم چې که چېرې زموږ ځلمي د نورو پېښې ونه کړي او نورو پسې لاړ نه شي، وړاندې وروسته وګوري، پښتو او پښتونواله ولټوي، میندې یې کړي، ټینګه یې کړي او د پښتو او پښتونوالي تلقین او تبلیغ خپله وظیفه وګڼي، هاند او جدیت وکړي، د بې پښتوګۍ په مخکي کلک ودرېږي، مخه یې ونیسي خدای ته هیله ده چې به پښتانه ژر د دغې بدحالۍ څخه ووځي.

زه خو یځپله د پښتو د مینانو او د پښتنو درښتینو چوپړیو (خادمانو) ځني یم، ما د پښتو او پښتونوالي په رابرسېره کولو او د پښتنو په خدمت کې هغومره هاند کړی دی، څومره چې مې له واکه او توانه کېده او کېدای شو، ګمان نه کوم چې بل چا دې دغومره کړي وي. په دغې لارې کې له ډول ډول ګرانو سره هم مخامخ شوی یم، چې شرحه یې امکان نه لري، ټول مې ځغمل او ځغمم یې، که هر چا دغومره کړي وای پښتو به اوس را ژوندۍ وه او که هر څوک دغومره هاند وکړي ډېره ژر به ژوندۍ شي او تللې پښتو به هم بېرته راوګرځي او پښتانه به له دغې بدحالۍ نه ووځي. که خدای کول موږ خپله برخه کړې، خپل وار مو تېر کړی او لاره مو هم پښتنو ته ښودلې او پرانیستې ده او پر نورو ده چې ډګر ته راووځي ورپسګې شي او خپله برخه کار وکړي، که څه هم ما اوس هم د پښتو او پښتنو د خدمت نه بشپړ لاس نه دی اخیستی اوس هم د موجوده شرایطو او خپله توانه سره سم هغومره مې چې له واکه کېږي او په هغه ډول چې کېدلای شي کوم یې او تر مړینې پورې به هم لاس وانه خلم ځکه چې پښتون یم، پښتو د پښتنو د ژوندانه او مړینې مسئله او خبره ده، رښتیا هم دغه ده چې هر پښتون چې د ځان او درستو پښتنو، پښتنې ژوند یعنې د پت، شرافت او سرېتوب ژوند غواړي نو هغه بې له پښتو کېدای نه شي. که پښتو منځ کې نه وي د پښتنو ژوند به د نوکرانو ژوند وي هسې ساه ښکل راښکل او خواړه څکه، ښنه، که څوک ژوند بولي نو دغسې ژوند خو ځاروي هم لري. هرڅوک چې پښتون او په رښتیا سره د پښتنانه زوی وي، نو هرو مرو به پښتو او پښتونواله غواړي او د زړه له کومي څه به ورسره مینه او محبت لري، خپله ساه به یې بولي او خپل ژوند به ورپورې تړلی ګڼي، ښایې چې هر پښتون د پښتنو او بالوسیله د پښتنو دپاره مادتاً او معناً په هري لارې او په هري وسیلې چې کولای شي خدمت وکړي، په دغې چارې کې د حیثیت ملاحظه مورد نه لري زما خپل چُرت دغه دی چې د پښتانه سړي حیثیت په پښتو کې او د پښتو او د پښتنو په چوپړولو (خدمت) کې دی د اشخاصو عزت او حیثیت د ټولۍ او ولس د عزت او هیثیته سره تړلی دی. که ولس عزت او حیثیت درلود نو د هغه ولس هر سړی به هم د عزت او حیثیت خاوند وي او که ولس عزت او حیثیت نه درلود، نو د هغه ولس افراد به څه عزت او حیثیت ولري؟ عزت او حیثیت په ډېر او ښه خوراک، په ډېر او ښه څښاک په ډېر عیش او عشرت د ډېرو سازونو او سندرو او راډیوګانو په اوریدلو، د ډېرو تیاترونو او سینماوو په لیدلو او په نمړیو او جامو په ډېرو عطرونو او لونډورو، په ښو ماڼیو، کوټیو د ګړندو ګاډو په سورلۍ نه دی، عزت او حیثیت په دې کې نه دی چې سړی په هره لار چې وي په سود وي، په غلا وي، په جبر او ظلم وي، په تالا وي، په تجارت وي، پیسې وګټي، عزت او حیثیت په لویي، غرور، عنوان، لقب او منصب نه دی او نه د مېز ناستې او د خوشامندګرو خوشامند او چاپلوسیو ته عزت ویل کېږي. دا عزت نه دی چې ټیټ خلک او د غرض خاوندان، چا ته ملک، خان، سردار، بادار او څه او څه وایي او په دروا غو خبرو او هغو ستاینو یې وستایي، چې په ده کې نه وي. لکه چې ناپوه په پوهه، جاهل په علم، ظالم په عدالت، بخیل په سخاوت، بې زړه په زړورتوب، بې دیانت په دینداري او دیانت پناهۍ وستایي او فاسق ته ولي الله ووایي، عزت او حیثیت په دغه هم نه دی چې څوک خپل ځان غټ سړی وبولي، د خپل دروندوالي د وقار، ساتنې دپاره ځانله چېرته ناست وي، ډېر نه وځي، چیرته نه ګرځي او که وګرځي هم ځانله به ګرځي سر به یې کښته اچولی وي او چا ته به نه ګوري، نه به چا ته سلام اچوي نه به د چا سلام اخلي او که په چا سلام اچوي یا یې اخلي، هغه هم په ډېره استغنا او لویي وي او د سر او سترګو په اشاره به وي، دا څه عزت او لویي نه ده چې څوک له چا سره لاره چاره ونه لري، له چا سره دوستي عزیزولي تګ راتګ، ناسته ولاړه ونه کړي، د چا په غم ښادي کې شریک نه شي، د ناروغو پوښتنه ونه کړي چا ته بې ګټې یوه پیسه پور ورنه کړي، یا د چا یو کار روان نه کړي څوک ځان ته پرې نږدې او که کوم وخت کې څوک ورشي او د ناکامه ورسره وګوري نو بې خونده روغبړ او بې خونده مرکه ور سره وکړي، په استغنا سره په مثقالۍ تلې تللې او په سوهان سوهان کړي، څو رسمي خبرې وکړي د هر څه په نسبت بدبیني ښکاره کاندي، د هر چا او هر څه نه بېځایه شکایتونه وکړي او ټول چُرت یې د ځان په ډاب مصروف وي... څوک چې په دغه چُرت کې وي هغه تېر وتلی دی او داسې کسانو ته د عزت خاوندان نه شو ویلی.

له پښتو سره زما مرسته په حیثیت او رتبه پورې څه اړه نه لري او که څوک دا خیال کوي اشتباه به کوي، که زما صحیه احوال ښه وای نو په دغه مهال کې چې رسمي چارې هم را ترغاړه نه دي او ډډې مې ترې سپکې دي، د پښتو په لیکلو کې به مې هم له پښتو ټولنې سره مرسته کړې وای. ګرانو پښتنو ته څه لیکل د دوی سره خواله کول، د زړه خوږ ویل، حال احوال بیانول، د ولس او وطن څنګوالۍ ډګر ته ایستل، وړاندې وروسته ته، پښتو او پښتونوالي ته د ځلمو پام کول، سمې او کږې ورښودل، کوکې سورې ویل، شور او غلبلې کول، په ژړا ژړل او په دغې ذریعې د پرهارژلي زړه غمونه سپکول له پښتو ټولنې سره مرسته نه ده او پر تاسو ښېګڼه اړول نه دي، بلکې خپله انساني، اسلامي او پښتنې وظیفه پر ځای کول دي. مګر ارمان دی چې د علمي او قلمي استعداد د لږوالي بیا په تېره د روغتیا د نابشپړوالي له کبله په

اخباراتو او مجلاتو کي د مقالو د ليکلو نه يم. تاسي ومنئ چي دغه مي هم په خورا زيار ليکلی دی په وروستي کي نه پوهېږم چي څه مي ليکلي او څه ليکم؟
نو د دغه دپاره چي ستاسو د ځلمو غږ خوشي لار نه شي، دغه مي وليکه خدای دي وکړي چي پدل (تاثير) وکړي، بيا هم که چيري شرايطو مساعدت وکړ او خپل توان مي وليد په دغي کي به هم هاند وکړم، که خدای کول.

په وروستي کي د پښتو ويښو ځلمو ته د لوی خاوند نه توفيقونه غواړم، چي ديني او پښتني څلو او اساساتو سره سم، د پښتو او پښتونوالی او پښتنو او پښتو نيانې دپاره هغسي خدمتونه وکړي، چګي لوی خاوند او د ده استاځي (ص) او د پښتنو مړي- ژوندي درست ترې خوښ او راضي شي. نور نو ځان تاسي پښتانه، پښتو او پښتونواله او پښتونيانه او درستي چاري په لوی مهربانه خدای سپارم.